AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

آصف بهاند
۲۰۱۴/۰۱/۲۷

# لنډۍ او د لنډيو د ثبتولو ستونزه
## (لومړۍ برخه)

کابل يې وران کړ وران يې مـــه وای
لاس دې يې مات شي چا چې ويشتي راکټونه

جـانـانـه سمـه امـريـکا يـــې
هم ملامت يې هم زارۍ درته کومه

د لنډيو په باب دغه بحث په خلوروبرخوکي وړاندي کيږي. نوي ثبت شوي لنډۍ به دورستی برخي په پای کي راوړل شي. مآخذونه به له نويو لنډيو نه وروسته، د متن د شميرو له مخي وښودل شي.
په لنډۍ باندي خبري کول کومه نوي خبره نه ده، خو زړه هم نه شو ورته وېلای اوهيڅکله به زړه هم نه شي.لنډۍ هرکله نويوخبرو او نويو بحثونوته اړتيا لري؛ د همدې اړتيا له مخي به په دي بحث کي د لنډۍ تأريخ، جولي او منځپانګي په باب خبري وشي، بيا به د لنډۍ په باب ترسره شويو ځيرنيزو کارونو ته تم شو، وروسته به د نويو لنډيو د ټولولو، ثبتولو او خوندي کولو پرکړنلاره اوستونزوباندې بحث ولرو، له دې نه وروسته به د راټولو شويو او چاپ شويو لنډيو د مجموعو په باب معلومات وړاندې شي.
لنډۍ د پښتو فولکلوريکو ادبياتو هغه ټولګی دی چي د شکل له مخي ډير لنډ، خو د پراخوالي اومنځپانګي له پلوه لکه سمندرونوغوندي داسي پراخ دی چي دعيني ژوندانه ټول اړخونه په خپله لمنه کي رانغاړي.
فولکلور د انسانانو د بې پولي اوبې پايه احسا س، يوه ستره برخه جوړوي. د فولکلورمنظومه برخه يا فولکوريک شعرونه د بشري فولکلور د ستري او شتمني خزاني يوه لويه او د پاملرني وړه برخه جوړوي؛او پښتولنډۍ د فولکورد شعري برخي هغه ستره خزانه ده، چي د پيړيو په اوږدو کي د ميليونونوخلکو له خوا رامنځته شوې ده، داسي چي همدا ټول خلک يې خاوندان دي، خويوېي هم د ملکيت دعوا نه شي کولای.
د لنډيو په باب دا او دې ته ورته معلومات د لومړي ځل له پاره لويو استادانو لکه علامه حبيبي په خپلو ځينو مقالو، استاد بينوا په«پښتولنډۍ»نومي اثرکي، استاد حبيب الله رفيع په «د خلکوسندرې» نومي کتاب کي راوړل شو، بيا وروسته د راټولو شوو لنډيو د مجموعوپه مقدموکي او د ځينو مقالو په ترڅ کي په لړتوپيرسره راواخستل شو، چي د ټولو په ډله کي زما په نظرد لنډيو په باب د ښاغلي سليمان لايق ځيرنې د پاملرني وړعلمي ارزښت لري.
پښتولنډۍ له لومړنيو خوښيو، ميني، غمونو، دردونو، خوندونو، وصالونو، بيلتونونو او...نه نيولې، بيا ترسل ګونو او زرګونو نورو ټولنيزو مطالبو پورې، په خپله لمن کي خوندي کړې دي.د زمانوپه تيريدوسره د لنډيو دغه خزانه د هرنسل له خوا داسي بډايه شوې ده، چي اوس نه يوازې د پښتنو د فولکلور يوه وياړمنه برخه ده، بلکي د بشري فرهنګ يوه ستره برخه اولاسته راوړنه بلل کيږي چي عمريې د اټکل له مخي زرګونوکلونوته رسيږي.
لنډۍ د پښتو شفاهي ادب د منظومي برخي هغه ډول ته ويل کيږي چي، له ډير ولرغونو زمانو څخه يې ترموږپورې د تيرو زمانو او پخوانيو انسانانو خوښۍ اوغمونه، برياوې او ناکامۍ، چغې اوخنداوې، ساړه اوتاوده، او...رارسولي دي؛ د هرزمان تجربې او انځورونه يې، لکه اوسنۍ تکنالوژي له ځان سره ساتلي دي، ځان يي ورباندي بډای کړی دی او اوس يې په ټولي امانتدارۍ سره د نوي نسل په مخ کي ايښي دي.اوسنی نسل هم بايد د خپل ژوند هراړخيزې تجربې پر دې خزاني باندې په لا امانتدارۍ سره ورزياتي کړي.
لنډۍ په پيل کي د يو تن داحساس زيږنده وي، د ټولنيزژوند په اوږدو کي نورخلک د خپل ژوند خواږه اوترخه ورباندې ورزياتوي اوڅه کموني هم ورنه کوي، د اوږدې پروسي له تيريدو نه وروسته يا منل کيږي اويا له خولونه لويږي.په دې پروسه کي داسي لنډۍ هم رامنځ ته شوي دي چي له تخليق نه ډيره لږه موده وروسته، له چاپيريال اوغوښتنوسره دنه مطابقت په وجه له منځه تللي دي، خو د تأريخ له اوږدو څخه داسي لنډۍ هم راپاتي دي چي دتيرو نسلونو د زړه غږيې په هنرمندانه ډول ترنن پورې را رسولای دی.
څنګه چي لنډۍ د فولکلوريکو اشعارو يوه برخه ده او د فولکلور په عام اومنل شوي تعريف کي راغلي چي:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالیږلو مخکي په خير و لولئ

فولکلور د نا لیکل شوي یا ولسي ادب هغه برخه ده چي ځانګړو کسانو او منفردو اشخاصو ته نه ده منصوبه او د ټولو خلکو ګډه شتمني ګڼل کیږي. که یې څوک په ځان پورې تړي، دا یومنفي بدعت دی، چي کله کله دا کارشوی هم دی.
لنډۍ دټولو پښتنو ګډ تخلیق اوګډه شتمني ده چي د رامنځ ته کیدو او آزمیښت پروسې یې اوږد وخت نیولی دی.لنډۍ د پښتني فولکلور داسي عامه او منل شوې بڼه ده چي که یې څوک د مثال راوړلو او یا هم د خپلې ادعا د ثبوت له پاره لیکي یا یې رانقلوي، هیڅ ډول مآخذ ته اړتیا نه شته، ځکه چي لنډۍ د ټولو خلکو مال دی، هرچیرې چي پښتون اوپښتني ژوند شته، هلته خامخا لنډۍ هم شته.منل یې یوازې دوه شرطونه لري:

- د شکل له مخي باید د نه(۹) او دیارلس(۱۳) سیلابونو درلودونکي دوه نا متوازن نیم بیتي ولري.
- د ټولنیز ژوند یوه برخه په کې په هنري بڼه انځورشوې وي.

دا دوه نا متوازن بیتونه چي یویې نه اوبل یې د یارلس سیلابه وي، باید په مانا اومفهوم کې یوله بل سره تړلي وي.داسي نه وي چي بې مفهومه نه سیلابه او دیارلس سیلابه نیم بیتیان سره څنګ په څنګ راوړل شي اوبیا دلنډۍ نوم ورباندې کیښودل شي.که په مفهوم کې یو د بل بشپړونکی یا مرستندوی نه وي، بیا لنډۍ نه شو ورته ویلای.لکه:

که له زلمونه پوره نه شوه
د یارله پاره درمسال جاروکومه

دا د شکل له مخي لنډۍ ده، یعني لومړی نیم بیتی نه(۹) سیلابه اودویم دا یې دیارلس(۱۳) سیلابه دی، خو د مانا له پلوه یو دبل ل بشپړونکی نه دي.
لنډۍ ته په بیلابیلو سیمو کې، جلا جلا نومونه کارول کیږي.ټیکی، مسری، ټپه، آواز، بدله، سندره اوځیني نور نومونه، خو لنډۍ یې هغه عام نوم دی چي ټول پښتانه یې ورته کاروي.
د لنډیو د شمیر د معلومولو په برخه کې باید وویل شي چي، په اټکلي ډول د نړۍ پرمخ د ټولو پښتنو د شمیرد مالومولو په صورت کې، کیدای شي چي په اټکلي ډول د لنډیوشمیرهم ښکاره شي؛ ځکه داسي پښتون به ډیرلږپیدا شي چي څولنډۍ یې نه وي زده، خودا خبره هرکله هرځای باید وویل شي چي یوه لنډۍ ټاکلی اوښکاره ویونکی نه لري او د ټولو خلکومال ګڼل کیږي.لنډۍ شاعرلري، خو نومورکی شاعر.د همدې اصل پربنا د لومړنۍ لنډۍ له رامنځ ته کیدونه تر نن پورې دا اصل د ټولوله خوا منل شوی دی چي لنډۍ د هیڅ چا مال نه دی، شاعریې نومورکی دی اوپه اصل کې د ټولوخلکومال دی. د همدې منل شوي اصل پربنا که یوڅوک داسي وانګیري چي یوه لنډۍ ده نوې اوتازه جوړه کړې ده، داسي باید فکر وکړي چي کیدای شي له ده نه مخکي بل چا هم دغه لنډۍ ویلې وي او د خپل دردیدلي، ښاد شوي یا ناښاد شوي زړه غږیې په کې اوچت کړی وي.
دا هم د یادولو ده، لکه څنګه چي د لنډیوهستوونکي اوشاعران نه دي مالوم، دغسي د تخلیق دقیق وخت اوځای یې هم نه دی مالوم، خو د رامنځ ته کیدو وخت یې په اټکلي ډول کیدای شي وویل شي.دغي لنډۍ ته پام وکړئ:

کابل یې وران کړ، وران یې مه وای
لاس دې یې مات شي چا چي ویشتي راکټونه

په راکټ باندې د کابل ورانیدل د اوس مهال خبره ده، د دې له پاره دې لنډۍ ته نوې یا د اوسمهال لنډۍ ویلای شو.
لنډۍ د سمندرڅپوته ورته ده، که یوه لره سسته اوزړه شي، ورپسې په لسګونو او سلګوني نورې څپې زیږي او سا اخلي؛ لنډۍ هم همداسي ده چي له نوي ژوند سره نوی سا اخلي اومخ پر وړاندې درومي.د لنډیو د تخلیق لړۍ نه درېږي، د بشریت د تجاربو دا خزانه ورځ تربلې پسې بډایږي.پښتني لنډۍ د ټول بشریت له پاره د هغه کتاب حیثیت لري چي هرڅوک کولای شي په کې دخپلې خوښې وړ موضوع یا مضمون پیدا کړي. دا هغه کتاب دی چي پښتون اوپښتني ژوند په کې په سم او دقیق ډول پیژندل کیدای شي.
د لنډیو د کاراصلي ساحه انسان او د هغه چاپیریال دی.ټول هغه شیان چي له انسان او د هغه له ژوند او چاپیریال سره اړیکي لري؛ د لنډیو د کارسیمه ده.دا خبره په دې مانا ده چي لنډۍ له انسان اوانساني ټولني څخه جلامطالعه کیدای نه شي، لنډۍ د انسان او د هغه د ژوند تشریح کولوته ځان وقفوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

لنډۍ د پښتنو د ټولنیز ژوند هغه رڼه هنداره ده چي هروخت د پښتانه د ژوند ټول اړخونه په کي ښکاریږي اوکه څوک وغواړي چي پښتون اودهغه د ژوند څرنګوالی وګوري یا یي د لوستلوتکل وکړي او د هغه د ټولني په باب په څه پوه شي، نو د لنډۍ بې پایه کتاب ته دي مراجعه وکړي.
که څوک غواړي چي د لنډیو اصلي شاعران وپيژني، د هغو د پیدا کولواصلي ځای اوپته د پښتنو د ټولنيزژوند مطالعه ده، اصلي ځای يې ټولنه او ټولنيزې اړيکي دي، چي که په هراړخيز ډول وڅيړل شي، داسي څه ورنه ترلاسه کيدای شي چي په تأريخ کي يې هم نه شو موندلای او بې ساري لومړني مواد ورنه تر لاسه کيدای شي.
که په ټول کي د لنډيو په ويونکو پسې وګرځوو، کيدای شي د لنډيو ويونکي پر دغو درې برخو وويشو:

- ښځينه لنډۍ،
- نارينه لنډۍ،
- دښځو اونارينوو‌ترمنځ ګډې لنډۍ.(۱،دويم مخ)

خو د لنډیوله هراړخيزې مطالعي نه ښکاري چي د لنډيو ډيره سلنه د ښځوله خوا ويل شوې ده:

دبريتوڅوکې دې کړې دي
زما نتکی په کي راکاړې مړه دې کړمه

بيا به نرۍ کميس ونه کړم
باران لمده کړم جانان ټوله وليدمه

څوک مي له حاله خبر نه دي
لکه دنم دړه پرزړه چاودلې يمه

هغه لنډۍ چي تراوسه پورې خوله په خوله ترموږپورې را رسيدلي دي او يا د چاپ د صنعت او د اوسنۍ تکنالوژۍ له برکته خوندي شوې دي، د دې څرګندويي کوي چي په لنډيو کي د ښځو ژوند، انګيرني، رنګارنګ احساس، د مينې د اظهارڅرنګوالی، د کورنۍ په تيره د نارينه پرضد د اعتراض د غږ اوچتول دي او د پښتني ميرمني د اوږدوغمونو، دردونو او ناخوالو غږ د نورو غوږونو ته رسول دي.
د فولکلوريکو منظوماتو په ډله کي هيڅ يوصنف د لنډيو په اندازه عام او د منلو وړنه دی.ټول فولکلوريستان په دې باور دي چي پښتولنډۍ د بشريت د عاميانه ادبياتو يوه مهمه او شتمنه برخه جوړوي.(۳،۱مخ)
سره له دې چي په افغانستان کي او د باندې له افغانستانه څخه د لنډيو په باب په پوره اندازه علمي کارنه دی شوی، خو هغومره کار چي شوی دی، لنډۍ ترپوې اندازې معرفي شوې دی.د لنډيو د ښې پيژندني له پاره دې لنډۍ له نورو کورنيو او بهرنيوشعرونو سره نه مقايسه کيږي، د لنډيو د ښې پيژندني له پاره ترټولوغوره لاردهغې ټولنې مطالعه او پيژندنه ده چي لنډۍ په کي رامنځ ته شوې وي.د لنډيو د ښه درک له پاره غوره لار د لنډۍ مطالعه او اوريدل دي، چي بايد واوريدل شي، راټولي شي، وڅيړل شي، بيا وروسته د ژبپوهني، ادبپوهني، ښکلاپوهني اوټولنپوهني د بيلابيلوعلمي اصولو له مخې خبرې پرې وشي.
په لنډ ډول که وويل شي، لنډۍ دپښتني ټولني دپيژندلو، څيړلو او معرفي له پاره ترټولو نورو ژانرونو يوه ښه اوغوره نمونه ګڼل کيدای شي.لنډۍ که په هرهيواد اوټولنه يا د نړۍ په هرګوټ کي چي تخليق شوې وي، په هماغه يوه قالب کي، دوخت له غوښتنوسره سم بيلابيل مضامين وړاندې کوي.دا خبره بايد هيره نه شي چي د هغو فرهنګي حوزو پيژندنه او مطالعه ډيره ضروري ده، چي لنډۍ په کي رامنځ ته شوې دي.
لنډۍ د اوريدونکو او لوستونکو هنري تنده داسي خړوبوي چي هيڅ يوهنري ژانريي په دومره لنډ اوبا مانا فورم نه شي ماتولای.ډيرلوی او مهم ټولنيز مطالب په يو واړه او لنډ شکل کي په هنري اندازسره بيانوي.د لنډۍ په همدا يوه بيت باندې لوستونکی يا اوريدونکی کولای شي:

- دټولي ورځي ستړيا وباسي،
- خپل قهراوبد حالت هيرکړي،
- خپل يار ورپه ياد کړي،
- خپل مړی وژاړي،
- خپل ژوندی ولمانځي،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

- خپل قهرڅرګند کړي،
- خپله مينه زبات کړي،
- خپل علم او هنرښکاره کړي،
- خپل وطن اومينه وستايي،
- د بريالیتوب راز په کي څرګند کړي،
- غندنه وکړي،
- او...

او په پای کي د خپل زړه ټول منفي او مثبت احساسات په کي څرګند کړي.
څنګه چي په سيندونو کي د غرو او رغو د واورو او چينواوبه سره يوځای کيږي، مستي اوشور وربښي، دغسي له لنډيو څخه هم د ژوند د ټولو اړخونو له څپوڅخه د رنګينو انځورونو په يوځای کيدوسره، د ژوند د آيینې په څير يومست اوښکلی انعکاس رامنځ ته کيږي چي څوک يي په ليدو سره په لنډ تنګ وخت کي د تيرژوند له بيلابيلو اړخونو خبريدای شي،د همدي له پاره د لنډيو ريښتيني پيژندنه او دَرَک، په خپله له لنډيو څخه ښه کيدای شي.
د لنډيو د تخليق اوږدې پروسي ته که په ځير وکتل شي، ليدل کيږي چي د لنډيو چينه نه وچيدونکي ده او داسي رڼي څپي ورنه رازيږي چي يوه څپه د بلي ځای نيسي او بله د بلي.ترڅو چي ژوند وي، لنډۍ به هم ژوندۍ وي او مضمون به يي لکه د هر زمان ژوند او د ژوند غوښتني، بدليږي او سره اوړي به.دوخت په تيريدوسره د زړولنډيو ځای نوي لنډۍ ډکوي اوپه نويو لنډيو کي د هماغه زمان غوښتني، پوښتني، ښکلاوې او هر اړخيز ژوند منعکس کيږي؛ داسي چي د ژوندپاني يوپه بل پسي اوړي، لنډۍ هم دغسي دي.يوه لنډۍ خپل ځای بلي ته پريږدي او دا نوي بيا بلي نوي ته او دا لړۍ پسي روانه وي.
د لنډۍ ميدان داسي پراخ او نه تماميدونکی دی چي هر ډول موضوع ته په خپلي لمن کي ځای ورکولای شي.زوړ ځوان، غم خوښي، شپه ورځ، ژمی منی، رڼا تياره، پسرلی منی، نرښځه، بدای بيوزلی ... او په پای کي د ټولني هر وګړی، هر قشر او هر څوک کولای شي لنډۍ جوړه کړي، لنډۍ وکاروي او د خپلو رنګارنګو احساساتو د ښودلو او تبارزميدان يي وګرځوي.
په لنډيو کي نوښت اړين کارڍی، خو تکرارهم په کي جواز لري. لنډۍ ژوند په هراړخيز ډول انځوروي او د مرګ څرنګوالی بيا، بيا؛ خوپه نوي ښه تکراروي، اساطير انځوروي، هماغه يو طبيعت وي،هماغه غر او ګودر وي، خو د لنډۍ شاعر د خپل زړه، ذهن، اوغوښتنو له کړکۍ ورته ګوري، په زړو لنډيو کي تصرف کوي، او د غوښتنو په خم کي يي رنګوي.که اوريدل کيږي که نه اوريدل کيږي، که ليکل کيږي که نه ليکل کيږي، د لنډۍ شاعر د خپل زړه براس باسي.
په پخوانيو وختونو کي د لنډيو ډيره سلنه ويونکي دسواد له نعمت نه محروم وو او د ليکلو دود يا نه وو او يا ډير عام نه وو،د همدي دليل پربنا ويلای شو چي کيدای شي په سل ګونو زره لنډۍ به له تخليق نه وروسته هيري شوي هم وي.
د لنډيو د هيريدو او په ياد پاتي کيدو ټول توان په خپله په لنډۍ کي دی، د هغي په انځور او پيام کي دی اوخلک دي چي لنډۍ يا هيروي اويا يي داسي ساتي لکه قيمتي غمی او د يوه ارزښتناک امانت په څيريي ذهن په ذهن، خوله په خوله نورو نسلونوته سپاري او لوی دليل يي هم دادی چي لنډۍ داسي بدلون منونکي ځانګړتياوې لري چي د هر وخت له غوښتنو او پوښتنوسره ځان برابرولای شي.پرته له ستونزو، نوښتونه مني،هرډول بدلون اوفکرته په ورين تندي ښه راغلاست وايي؛ او د لنډۍ د تل پاتي کيدو يو لوی دليل کيدای شي همدا وګڼل شي.
په لنډيو کي تکراراوتوارد حتی د نيم بيتونو په اندازه هم کيدای شي، چي لومړی يا دويم نيم بيتی په پخوانی کارول شوي ښه بيا راوړل شي، چي دا په لنډيو کي ادبي غلا نه بلل کيږي، بلکي دا يو روا تصرف دی، چي د لنډۍ نوي ويونکي خپل فکر، ذوق اوغوښتني په کي بيانوي.
لنډۍ د پښتني ژوند هغه بهانده چينه ده چي تر څو انساني ژوند شته، پښتوژبه شته اوپښتون شته؛ دغه چينه نه وچيږي.هرنسل به د خپل ژوند حالات اوغوښتني په کي په هنرمندانه ډول بيانوي.قوت اوضعف به يي د انځورولو په ښه پوري تړلی وي او د تل پاتي کيدو دليل به يي هم د موضوع د مهموالي او د انځورولو څرنګوالی وي.
لنډۍ د پښتني فولکلورهغه هميشه بهار صنف دی چي خزان نه پري راځي اونه د خزان په نامه کوم شی پيژني.د وخت په تيريدوسره، د سرو او تودو په راتګ سره يوازې خپلي پاني بدلوي، نوي اولاتازه غوټۍ پرته دشنيلي د فصل له راتګ څخه په کي غوټۍ کوي اوګلان غوړوي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

د وخت په تیریدوسره په لنډیوکي، لکه د ونو پاڼي، فکربدلیږي او ورسره توري هم په نوې بڼه ځان جوړوي.یو وخت به ریبارانو احوالونه رسول، د باد په ځپوکي به سلامونه لیږل کیدل:

سبا به لوړ چنارته خیژم
باد به پوښتم چي یارمي څه ویلي دینه

خو اوس د ریبارانو ځای تیلیفون، ایمل، اس ام اس او... نیولی دی:

په اِس اِم اِس دي احوال راکړه
زړګی زخمی دی چي ټکورمي شي ټپونه

یارمي دغرونواستوګن دی
موبایل ناخلي ښایی نه وي آنتنونه

ما په فیسبوک کي پرون ورک کړي
سهار راهیسي دي ګوګل کي لټومه

ژوند بدل شو، نوې تکنالوژۍ د زړو شیانو ځای ونیو او د ژوند په هر اړخ کي د پاملرني وړ بدلونونه راغلل، لنډیو هم په خپله لمنه کي ټول نوي رامنځ ته شوي بدلونونه را ونغاړل او نوي رامنځ ته شوي شیان یې په نوې بڼه انځورکړل:

ایمل دي خلاص کړه حال مي ګوره
ایمل کي ښکاري دزخمي زړه پرهرونه

که په لنډیو کي د هرټولنیز قشر د ژوند خوږوالی یا تریخوالی وپلټل شي، د ټولنیزژوند د ځیرني له پاره په کي نوي او د لومړي لاس توکي ترلاسه کیدای شي او د هرې برخي له ځیرني نه یې کتاب نه، بلکي کتابونه جوړیږي.
څنګه چي ډیره سلنه لنډۍ د ښځو له خوا تخلیق شوې دي، نوهرکله که څوک پنځه لنډۍ ووایي، یا یې وواوري، یا یې ولولي؛ نو لیدل کیږي چي له هغو پنځو لنډیو نه په دریوکي، یا ښځه خبرې کوي، یا د ښځوپه باب خبرې کیږي.
په لنډیو کي د ښځو دریځ د هغو دودونو پرخلاف لیدل کیږي، چي د هغو له مخي په ټولنه کي له ښځوسره ناوړه چلند کیږي. کوم دریځ چي ښځه په افغاني ټولنه(په ځانګړي ډول پښتني ټولنه) کي لري، په لنډیو کي ښځه د هغه دریځ پرضد راجګیږي، غبږ اوچتوي، انتقاد کوي، په مستقیم اوغیرمستقیم ډول د خپلو حقوقو د غوښتلومسأله مطرح کوي.د لنډیو میدان دومره پراخ دی چي ښځه کولای شي  د هر ډول کورنیو، کلیوالي، قبیلوي، ښاري او نورو چاپیریالونو د منفي اړیکو پر ضد خپل غږ اوچت کړي، خپله مینه څرګنده کړي، د درد،غم، خوښیو، ظلم، تیري، عدل او... په باب خپل احساسات څرګند کړي اوپه ځانګړي ډول د ټولنیزو ظالمانه نا وړه شرایطو پرضد غږ اوچت کړي.(۲،دمقدمي۴۷-۴۱مخونه)

په ړنا ورځ یې درنه یوړم
پلارمي ظالم شو په بوډا یې خرڅه کړمه

صورت زما واک یې د بل دی
صورته وسوځي چي نور دي واک لرینه

په زلمیتوب دې، اور شه پورې
ستا په نامه مي نن سبا سنګساروینه

د لومړۍ برخي پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ